# شتمنی SHTAMANI

اوونیزه

تأسیس: ۱۳۹۴ل ل

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

د ذوالحجته الحرام ۵ -۱٤٤٦ل س | د غبرکولي ۱۲ -۱٤۰۴ل ل | د جون ۲-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۴۲ ګڼه | ٤ مخیزه




**د ذوالحجې د لومړيو لسو ورځو فضيلت**

**له عبدالله ابن عباس رضی‌الله عنهما څخه روايت دئ، چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:** داسي هيڅ ورځي نسته، چي صالح عمل پکښې الله جل جلاله ته تر دې ورځو ډېر محبوب او خوښ وي. صحابه کرامو له پيغمبر صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل، چي تر (في سبيل الله) جهاد هم د دې ورځو عمل غوره دئ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: هو؛ تر هغه هم غوره دئ، مګر دا چي يو څوک په ځان او مال جهاد ته لاړ سي او بيا هيڅ شی هم سلامت را نه وړي.

(د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

## سرمقاله

### له بهرنيو مالي بنسټونو سره د ماليې وزارت اړيکي

د ماليې وزارت د افغانستان اسلامي امارت د مالي نظام په ثبات، پياوړتيا او پرمختګ کي ځانګړی رول لري، دغه مالي اداره د ملي بوديجې د تنظيم او مديريت کولو تر څنګ د پراختيايي پروژو پلي کولو، د کورنيو او بهرنيو پانګوالو د راجلبولو، په اقتصادي ډګر کي سوداګرو ته د اسانتياوو برابرولو، د نړيوالو مالي اصولو او قوانينو سره د يو ځای کېدو په موخه د مالي او اقتصادي پاليسيو جوړولو اساسي او کليدي مرجع ده. ماليې وزارت د اقتصادي ثبات د ټينګښت په موخه د سيمو له هيوادونو سره د صادراتو، وارداتو او ټرانزيټ په برخه کي هم ځانګړی پرمختګ کړی دئ، همدارنګه د کورنيو مالي سکټورونو او امارتي ارګانونو سربېره د نړيوالو مالي سازمانونو او مرستندويه بنسټونو سره لازمي اړيکي پياوړي کړي، له دغو بنسټونو څخه يو هم له نړيوال بانک سره ځانګړې همغږي ده، چي په پايله کي ئې نړيوال بانک بيا په افغانستان کي خپل فعاليت پيل کړ، له دې جملې څخه د کاسا - ۱۰۰۰ پروژې مالي ملاتړ او ځينې نوري لاسته راوړني يادولای سو. ماليې وزارت د نړيوال بانګ له استازو سره د دوامدارو اړيکو او خبرو په پايله کي د دغه بانک دې ته چمتو کړ، چي په افغانستان کي د خپلو پاتي پورونو د ور کولو عملي لړی پيل کړي، نړيوال بانک په افغانستان کي له لوجيستيکي او رغنيزو شرکتونو څخه د تثبيت سويو ارقامو له مخي (۵۰) ميليونه ډالره پوروړی دئ، دغه بانک له ماليې وزارت سره په همغږی د دغو تثبيت سويو پورونو د ورکړي لړی راپيل کړه، چي په څلورو پړاوونو کي به يادو شرکتونو ته خپل پور ور کړي. دغه بانک په لومړي پړاو کي (۱۰،۸) ميليونه ډالره په مستقيم ډول يادو شرکتونو ته ورکړل او پاتي (۳۹،۱۱) ميليونه به په دريو پړاوونو کي د ماليې وزارت له لاري ورکړي، چي له دې سره به پراختيايي پروژې له سره پيل سي، پانګوني ته به زمينه برابره او په نتيجه کي به ئې هيوادوالو ته کاري فرصتونه را منځته او په ټوله کي به د ملي اقتصاد په لا پياوړتيا کي اغېزمني پايلي ولري.

**درنښت**

**اداره**

## د کارکوونکو چارو رياست د پنځه کلن ستراتيژيک پلان د ارزوني ناسته وسوه



د ماليې وزارت اداري معين مولوي دوست محمد مخلص په مشرۍ او د کارکوونکو چارو رئيس مولوي عبيدالله ابو احمد او اړوندو مسئولينو په ګډون د کارکوونکو چارو رياست د (۵) کلن ستراتيژيک پلان د ارزوني ناسته وسوه. په پيل کي د کارکوونکو چارو رياست د مسئولينو له لوري د ياد (۵) کلن ستراتيژيک پلان هر اړخيزه تشريح ترسره او په اړه ئې ګډونوالو هم خپل نظرونه وړاندي کړل. وروسته بيا د ماليې وزارت اداري معين دغه ستراتيژيک پلان يو غوره او ستر ګام ياد کړ او د چمتو کولو له پاره ئې له اړوندو مسئولينو څخه مننه او قدرداني وکړ. نوموړي هيله ښکاره کړه، چي د دغه پلان په غوره تطبيق سره به د بشري سرچينو په برخه کي سته ستونزي حل او د ګومارني په برخو کي به اړيني اسانتياوي رامنځته سي. د يادوني وړ ده، چي دغه ستراتيژيک پلان هر اړخيز او منظم پلان دئ او موخه ئې د نظام پياوړتيا او د متخصصو اشخاصو ګومارنه ده، چي د يوه کال په موده کي د راتلونکو (۵) کلنو له پاره ترتيب سوی او له ارزوني، بيا کتني او تائيد وروسته به په منظم ډول پلی سي.

## د هرات ولايت د اسلام کلا او تورغونډۍ په سرحدي ګمرکونو کي امنيتي کېمرې نصب او فعالي سوې

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست له لوري د هرات ولايت د اسلام کلا په سرحدي ګمرک کي (۵۱) او د تورغونډۍ په سرحدي ګمرک کي (۲۹) امنيتي کېمرې نصب او فعالي سوې، چي يادي کېمرې به په نږدې راتلونکي کي له مرکز سره هم ونښلول سي. د دغو امنيتي کېمرو په نصبولو سره به د امنيتي مسايلو تر څنګ د ګمرکي سرغړونو او د پېښو د مخنيوي په برخو کي هم د پام وړ اسانتياوي رامنځته سي. د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت ژمن دئ، چي د هيواد ټول ګمرکونه په معياري برېښنايي سيستمونو سمبال کړي؛ تر څو هيوادوالو په ځانګړي ډول سوداګرو ته د پام وړ اسانتياوي برابري سي.




## د ګمرکونو او عوايدو معين د کابل ولايت د ټولو مالياتي حوزو له آمرينو سره وکتل




د ګمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ او د عوايدو لوی رياست عملياتي او د مستوفيتونو د چارو مرستيالانو په ګډون د پلازمېني کابل د ټولو مالياتي حوزو له آمرينو سره ناسته وسوه. په دې ناسته کي د ګمرکونو او عوايدو معين يادو مسئولينو ته په منظم ډول د عوايدو راټولولو، مراجعينو سره د ښه چلند او پر وخت د خدمتونو وړاندي کولو، د چارو د منظموالي له پاره په مربوطه کاري ساحه کي له مسئولينو سره د سالمي همغږۍ اړيني سپارښتني وکړې. د ناستي په جريان کي د مالياتي حوزو د آمرينو ستونزي او غوښتني واورېدل سوې، چي د رهبرۍ له لوري د اصولي اجراآتو ډاډ ورکول سو.



**د ګمرکونو لوی رئيس د خوست له والي او د دې ولايت له يو شمېر سوداګرو سره وکتل**

م ۲




**هفته گذشته اموال قاچاقی در ولایات مختلف کشور ضبط گردید**

م ۲



**د امربالمعروف او نهي عن المنکر د قانون پلي کولو د استازو نهمه ناسته وسوه**

م ۲




**د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رئيس او مل پلاوی د يو شمېر ولايتونو له سفر څخه راستون سو**

م ۲




**اقتصادي ډيپلوماسي(Economic Diplomacy)!**

م ۳




**پاکستان د سوداګريزي ودې په خاطر د افغانستان له مهمو صادراتو څخه ٪(۱۰) ماليه ايسته کړه**

م ٤

## د ګمرکونو لوی رئیس د خوست له والي او د دې ولایت له یو شمېر سوداګرو سره وکتل

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مولوي محمد حامد احمد، چې په رسمي سفر خوست ولایت ته تللی، د یاد ولایت له والي مولوي عبدالقیوم روحاني او یو شمېر سوداګرو سره په جلاجلا ډول وکتل.



د ګمرکونو لوی رئیس د خوست له والي سره په لیدنه کې په بېلابېلو برخو کې سوداګرو ته د اسانتیاوو پر رامنځته کېدو، د سته ستونزو پر حلولو، د ګمرکي عوایدو پر زیاتولو او یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه بحث او خبري وکړې.

همدارنګه د ګمرکونو لوی رئیس د خوست ولایت له یو شمېر سوداګرو سره په لیدنه کې د دوی ستونزي واورېدې او د ژر حلولو ډاډ ئې ورکړ.

د ګمرکونو لوی رئیس په دې سفر کې د خوست د محصولي ګمرك او د غلام خان ګمرك چاري هم له نږدې و ارزولې او د یادو ګمرکونو مسئولینو او کارکوونکو ته ئې په بېلابېلو برخو کې لازمي سپارښتني وکړې.

د یادوني وړ ده، چې د ګمرکونو لوی رئیس به په دې سفر کې د پکتیا ګمرك د چارو د ارزوني په موخه یاد ولایت ته هم سفر وکړي.

## د امربالمعروف او نهي عن المنکر د قانون پلي کولو د استازو نهمه ناسته وسوه

د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظ الله تعالی) په هدایت د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون د یوشان پلي کولو په موخه د وزارتونو ترمنځ استازي ټاکل سوي دي.

مالیې وزارت هم د دغه قانون د ښه پلي کولو په موخه د اداري معین مولوي دوست محمد مخلص په مشری نهمه خپل منځي ناسته وکړه.

په دغه ناسته کي له خپل اداري دریځ، سیاسي دریځ، له اقتصادي او ټولنیز دریځ څخه د ناوړه ګټې اخیستني د مخنیوي په موخه د اسلامي شریعت د لارښوونو مطابق هر اړخیز بحث وسو او د احتمالي ستونزو د مخنیوي لاري وسنجول سوې.



د یادوني وړ ده، چې د دغې لړۍ د لا ښه ترسره کولو په موخه په هره ناسته کي د تېر مجلس د مواردو د ارزوني ترڅنګ د هغې تطبیق او تعقیب هم ترسره کېږي.

## د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس او مل پلاوی د یو شمېر ولایتونو له سفر څخه راستون سو

د مالیې وزارت د مقام له هدایت سره سم میدان ورګ، بامیان، غزني، زابل، هلمند، فراه او نیمروز ولایتونوته د دغه وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د رئیس او مل پلاوي سفر د یک شنبې په ورځ د غبرګولي په ١١ نېټه پای ته ورسید.

دا سفر، چې له لاسته راوړنو ډک وو، په جریان کي ئې یاد پلاوي د همدې ولایتونو له والیانو او د امربالمعروف او نهي عن المنکر له رئیسانو سره هم کتلي او هغوی د مالیې وزارت له کارکوونکو څخه خوښي څرګنده کړه.

په دغه سفر کي د غزني ولایت د امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له خوا د همدې ولایت د مستوفیت د دعوت او ارشاد مسئول ته تقدیرنامه هم ور کړل سوه.




همداشان د ابونصر فراهي او هلمند فرعي ګمرك او نیمروز ګمرك له رئیسانو او د یادو ولایتونو له مستوفیانو او ټولو کارکوونکو سره کـډي ناستي وسوې او د محترم مولوي سیف الخالد له خوا ورته د اخلاص، له مراجعینو سره د ښه چلند، اطاعت، صبر او استقامت، یو په بل پسې د بهتان نه ویلو په اړه سپارښتني او لارښووني وسوې. د دې سفر په لړ کي د یاد پلاوي له نظره د مالیې وزارت د کارکوونکو سیرت او صورت تر ډېره بریده په شرعي احکامو برابر وو.

د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست هڅه کوي؛ ترڅو د مالیې وزارت کارکوونکي خپل سیرت او صورت د شریعت مطابق برابر او له مراجعینو سره ښه چلند وکړي.

## د نیمروز ولایت د عوایدو، د بلخ ولایت د ګمرکونو او د مرکزي زون کارکوونکو له پاره روزنیز پروګرامونه پای ته ورسېدل

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له کلني تدریسي پلان سره سم، د نیمروز ولایت (٣۴) تنو کارکوونکو ته د (عوایدو د مالیاتي قوانینو او سیکټاس سیستم) تر عنوان لاندي د مالیې ډولونو، د مالیه ورکوونکو حقوق او مکلفیتونو او د مالي نورمونو په تړاو او د بلخ ولایت د ګمرك (۴١)تنو کارکوونکو ته (د ګمرکي اداري او مسلکي چارو) تر عنوان لاندي د ګمرکي اهدافو او مکلفیتونو، د اظهارنامې سنجش، محاسبو او ټرانزیټ په تړاو او همدارنګه د مرکزي زون (١٧)تنو کارکوونکو ته (د مالیاتي قوانینو او سیکټاس سیستم) تر عنوان لاندي د مالیاتي قوانینو، طرزالعملونو، پروسیجرونو او سیستمونو په تړاو روزنیز پروګرامونه پای ته ورسېدل.

د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت هڅه کوي، د دغه ډول پروګرامونو په جوړولو سره د خپلو اړوندو ادارو ټول کارکوونکي په مسلکي وړتیاوو سمبال کړي؛ ترڅو سته ستونزي حل او د غوره خدمتونو په وړاندي کولو سره هیوادوالو ته لا هوساینه رامنځته کړي.



## د سپین بولدک په ګمرک کي نږدې ٢٥ کیلو ګرامه نشه يي توکي ونیول سول

د کندهار ګمرك اړوند د سپین بولدك سرحدي ګمرك ویښو او ځیرکو کارکوونکو په یوه وارداتي محموله کي څه کم (٢٥) کیلو ګرامه تریاك کشف او ونیول.

نیول سوي نشه يي توکي د سیمنټو په یوه وارداتي محموله کي په ډېر مهارت سره ځای پر ځای سوي ول، چې د یاد ګمرك د تشریح برخي د ځیرکو کارکوونکو له لوري کشف او ونیول سول.



نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو په موخه امنیتي ادارو ته وسپارل سول.

## د کابل ګمرک کارکوونکو ته جوړ سوی روزنیز پرورګرام پای ته ورسېد

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له کلني تدریسي پلان سره سم، د کابل ګمرك (۴۴) تنو کارکوونکو ته جوړ سوی (٢٨) ورځنی روزنیز پروګرام پای ته ورسېد.

په دغه پروګرام کي ګډونوالو ته ګمرکي قوانین، ګمرکي طرزالعملونه، وارداتي پړاوونه، صادراتي اظهارلیکونه، ټرانزیټي فورمونه او نور اړوند موضوعات تدریس سول، چې ورسره په یادو برخو کي د کارکوونکو وړتیاوي لوړي او اړوندي چاري به په لا ښه توګه تر سره سي.

د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت تل هڅه کوي، د دغه ډول پروګرامونو په جوړولو سره د خپلو اړوندو ادارو ټول کارکوونکي په مسلکي وړتیاوو سمبال کړي؛ ترڅو سته ستونزي حل او د غوره خدمتونو په وړاندي کولو سره هیوادوالو ته لا هوسايني رامنځته کړي.



## هفته گذشته اموال قاچاقی در ولایات مختلف کشور ضبط گردید



کارمندان مراقبت سیار ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه هفته گذشته در ساحات مختلف ولایات نیمروز، فراه، هرات، بلخ و هلمند اموال قاچاقی را کشف و ضبط نموده، که قاچاقچیان می خواستند آنرا بدون محصول گمرکی وارد افغانستان نمایند.

اموال ضبط شده شامل (٨٧٨۴) کیلو گرام چاکلیت، (٢٨٦١)کیلو گرام ادویه طبی انسانی، (١٠۵۴) کیلو گرام لواشک، (٨٢۵) کیلو گرام رُب، (٢٢۵٠)کیلو گرام نمک، (٩٦٦) کیلو گرام مکرونی، (٣٠٠) کیلو گرام بسکیت، (١۵٦) کیلو گرام پنیر پیزا و (١۵۴) کیلو گرام انرژی میباشد.

افراد متهم در قضیه و اموال ضبط شده برای تحقیقات و جزیات بیشتر به گمرکات مربوطه تسلیم داده شده.

قابل یادآورست که کارمندان مراقبت سیار وزارت مالیه در تمام نقاط کشور نظارت داشته و به هیچ کس اجازه نمیدهد که اموال ممنوعه و قاچاقی انتقال دهند.

## د هرات ګمرک د ګرځنده ځارني ٢۴ تنو کارکوونکو ته روزنیز پروګرام جوړ سو



د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له کلني تدریسي پلان سره سم، د هرات ګمرك (٢۴) تنو کارکوونکو ته د ګمرکي طرزالعمل، د ګرځنده ځارني د دندو د لایحې، د ګمرکونو د قانون، د اظهارنامې فورم د تشریح او اړوندو نورو موضوعاتو په تړاو دوه اوونیز روزنیز پروګرام جوړ سو، چې ورسره په اړوندو برخو کي د کارکوونکو وړتیا لوړه او چاري به په لا ښه ډول ترسره سي.

د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت هڅه کوي، د دغه ډول پروګرامونو په جوړولو سره د خپلو ادارو ټول کارکوونکي په مسلکي وړتیاوو وروزي؛ ترڅو سته ستونزي حل او د غوره خدمتونو په وړاندي کولو سره هیوادوالو ته لا هوسايني رامنځته کړي.

شتمني SHTAMANI
اوونیزه

# اقتصادي ډيپلوماسي (Economic Diplomacy)!

عبدالجبار وحدت




یاده موضوع د ۲۱ مې پېړۍ د اقتصاد له مهمو او نویو موضوعاتو څخه شمارل کېږي، د اقتصادي ډيپلوماسۍ له پاره ټول منلی تعریف تر اوسه هم نسته، دا ځکه چې د اقتصادي او سیاسي اوضاع په تغییر سره اقتصادي ډيپلوماسي بدلېدونکې ده، ځکه موږ مشخص چوکاټ نه سو ورته ټاکلی، اقتصادي ډيپلوماسي د حکومتونو له پاره مهم لومړیتوب او اساسي اړتیا ده. د مقاومتي اقتصاد له پاره مهمه دا ده، چې اقتصادي ډيپلوماسي مشخصه سي، د حکومتونو اقتصادي تعاملات په مبهم حالت کې شوني نه دي، د اقتصاد علماء اقتصادي ډيپلوماسي ځکه اړینه بولي، چې په نړیوال اقتصادي نظم او نړیوال اقتصادي فارم کې د حکومتونو اقتصادي لید، اهداف، سیاستونه او لومړیتوبونه معلوم وي، د تولید، خدماتو او مبادي اړوند سیاستونو تنظیم او پر مخ وړل د نن ورځې د اقتصاد یوه مهمه اړتیا ده. په لنډ ډول سره ویلای سو، چې اقتصادي ډيپلوماسي هغه اقدامات او پالیسي ده، چې یو هیواد ئې د سفارتونو او قونسلگریو له لاري ترسره او تطبیقوي، چې د هیواد د اقتصادي گټو د ساتنې، پراختیا، صادراتو د زیاتوالي او نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي په موخه رامنځته کېږي او غواړي، چې د اقتصاد له لاري سیاسي نفوذ پیاوړی کړي. په اقتصادي ډيپلوماسي کې نه یوازي نن بلکې راتلونکی اقتصادي وضعیت هم تحلیلېږي او په نړیوال اقتصادي چاپېریال کې باید د هیواد د اقتصادي گټو د تر لاسه کولو له پاره معقول او مؤثر اقتصادي تصمیمونه ونیول سي. هغه هیوادونه، چې له شدیدو اقتصادي تحریمونو سره مخ وي د هغوی د اقتصاد په ژغورلو او راپورته کولو کې اقتصادي ډيپلوماسي ځانگړی رول لري.

دولتونه د اوږد مهاله اقتصادي اهدافو د تر لاسه کولو او پراختیا له پاره د اقتصادي ډيپلوماسۍ له فن څخه کار اخلي. که څه هم دا بحث پورته سوی دئ، مگر د هدف په ډول ویلای سو، چې حکومتونه د اقتصادي ډيپلوماسۍ څخه په استفادې د صادراتو د زیاتوالي، د اقتصادي تحریمونو کمولو، خارجي مستقیمي پانگې (FDI) جذب او نړیوالو سوداگریزو اړیکو د پراختیا او د ملي اقتصاد د ودي په لټه کې وي. اقتصادي ډيپلوماسي معمولاً د صادراتو د زیاتوالي ستراتیژۍ په چوکاټ کې راڅرگندېږي. په اقتصادي ډيپلوماسي کې هڅه کېږي، چې اقتصادي انزوا کمه سي، ملي گټې تضمین سي او د سیمې له هیوادونو سره اقتصادي اړیکې پراخي سي. د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي ډيپلوماسۍ یو څو مهمې هڅې یادولای سو؛ لکه د (BRICS) غړو هیوادونو سره هم نظري او د اقتصادي اړیکو پراختیا، له روسیې او چین سره له محلي اسعارو څخه په استفادې سوداگري، د چین، پاکستان، اقتصادي دهلېز (CPEC) ته د افغانستان داخلول، تاپي پروژه، د لاجوردو دهلېز، په چابهار بندر کې سرمایگذاري،له چین سره د کانونو او انرژۍ په برخه کې پانگونه. اقتصادي ډيپلوماسي هم د تطبیق له پاره مهمې وسیلې (Instrument) لري، چې په مټ ئې پلي کېږي، لکه؛ سوداگریز تړونونه (FTA, PTA)، فرهنگي او سیاحتي تبادلې، ستراتیژیک مهارتونه، نړیوال اقتصادي کنفرانسونه او نندارتونونه. بناً پورته مواردو ته په کتو موږ هم تر بل هر وخته او تر بل هر چا جدي اړتیا لرو، چې واضحه اقتصادي ډيپلوماسي ولرو او وئې کاروو.

## هیئت پلان و اوپراسیون قطعه تنفیذی محافظت و عملیات‌های خاص به برخی زون های کشور سفر نمود

یک هیئت تحقیقاتی قطعه محافظت و عملیات های خاص وزارت مالیه که رهبری آنرا حافظ مولوی ریاض الله "عبید" مدیر پلان و اوپراسیون به عهده داشت، از پوسته های امنیتی گمرکات و مستوفیت های مربوط به ولایات لوگر، پکتیا، پکتیکا، خوست، لغمان، ننگرهار، کنر، نورستان، کاپیسا، پروان و پنجشیر بازدید نموده و فعالیت های آنان را بررسی و ارزیابی نمودند. هیئت متذکره در جریان دیدار با مسئولین و منسوبین امنیتی، بر اطاعت پذیری، اخلاص، سلوک خوب با تجاران و مراجعین در گمرکات و مستوفیت ها در جریان ایفای وظایف و همچنان بر رعایت اطاعت پذیری میان مسئولین، بحث و تبادل نظر نموده و هدایت لازم را ارائه نمودند. همچنان، سروی جدید امنیتی گمرکات و مستوفیت‌ها، ثبت و موجودی اجناس مخابراتی و لوجیستیکی، نظارت جامع، تحقیق، اصلاح، تدقیق، ثبت و سجل به منظور تقویت بیشتر سیستم اداری انجام شد. قابل ذکر است که هیئت متذکره در جریان این سفر علاوه به بررسی بعضی فعالیت ها، به منظور هماهنگی بهتر با رؤسای گمرکات و مستوفیان مستوفیت های متذکره نیز دایر نمود.

# اعلانات داوطلبی

### اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظردارد، پروژه تدارک ۱۰ پایه اسکنر مورد ضرورت ریاست عمومی گمرکات، وزارت مالیه ، دارای نمبرتشخیصه ۱۹۰-NRB/G/١٤٠٤/MOF را با شرکت افغان تکسار لمیتد به قیمت مجموعی مبلغ ۷۹,۵۸۵,۰۰۰ (هفتاد نو میلیون و پنج صدو هشتاد پنج هزار) افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نماید این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس : وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان– ریاست تدارکات،آمریت تدارکات- مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری.

### د داوطلبۍ خبرتیا

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ولایت د بگرامیو او میربچه کوټ ولسوالیو اړوند (۴) امارتي ملکیتونه په جلا جلا ډول د داوطلبۍ له لارې اعلان ته وړاندې کړي.

۱ – د کابل ولایت میربچه کوټ ولسوالۍ اړوند (۳۳۴۸) متره مربع احاطه شوې سوداگریزه ځمکه چې میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۱۷٦٢) افغانۍ ده.
کوردینات (جی.پی.اس نمبر) (.۱۱۸۷۰۸٦۹. ۷۵۰٤۵۹۳٤)

۲ – د کابل ولایت میربچه کوټ ولسوالۍ اړوند (٦۰۳۵) متره مربع احاطه شوې سوداگریزه ځمکه چې میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۴۲۲۴۵) افغانۍ ده.
کوردینات (جی.پی.اس نمبر) (٦٩,۱۲۱۸۲۵ ۳٤,۷۵۲٤٤۷)

۳ – د کابل ولایت میربچه کوټ ولسوالۍ اړوند (۵٦۸) متره مربع احاطه شوې سوداگریزه ځمکه چې میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۴۰۸) افغانۍ ده.
کوردینات (جی.پی.اس نمبر) (٦٩,۱۱٦۳ ۳٤,۷٤۸۹۱)

٤ – د کابل ولایت بگرامیو ولسوالۍ اړوند په قلعه احمد خان کې د (۱۴۰۰۰) متره مربع ځمکه چې میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱٦۳۳۴) افغانۍ ده.
کوردینات (جی.پی.اس نمبر) (۳٤,۵۰٤٦۲ ٦٩,۲٦۱۲۸)

ټول هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې غواړي پورته ذکر سوی ملکیت په کرایه ونیسي کولای سي چې خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۴/ جوزا/ ۰۵ وروسته د ۱۴۰۴/ جوزا/ ۲۵ ) د (۲۱) ورځو په موده کې د امارتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپانه تر لاسه کړي.

پته: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزې ودانۍ (۱۰) پوړ د ولایتي تړونونو د اړیکو لوی مدیریت.

د اړیکې شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤٦۱۱

د داوطلبۍ ټاکلې نېټه: ۱۴۰۴/۰۳/۲٦ د سهار ۲:۰۰بجې تر سره کېږي.

### اعلان داوطلبی

یک دربند حویلی موازی (۹٦۰) متر مربع دارای سه منزل تعمیر گاراژ آشپزخانه عصری ساحه سبز حوض آبیازی چاه عمیق و الحاقیه جداگانه واقع کارته اریانا شهر مزار شریف به کرایه ابتدایی ماهوار مبلغ ۸۸۰۰ افغانی برای مدت دوسال به داوطلبی میسپارد. اشخاص حقیقی و حکمی میتوانند درخواستهای خود را اعتبار از نشر اعلان الی مدت ١٤ یوم به مدیریت املاک امارتی مستوفیت ولایت بلخ بسپارند شرطنامه را مطالعه و آفر اخذ نمایند. مجلس آفر گشایی به روز دوشنبه ساعت (۱۰) بجه قبل از ظهر تاریخ ۱۹ جوزا ١٤٠٤ به حضور داشت هیئت موظف در مدیر یت عمومی املاک امارتی برگزار میگردد تضمینات نقدآ گرفته میشود.

### د داوطلبۍ خبرتیا

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ښار (۹) مې ناحیې اړوند په پکتیا کوټ په هوخیست کې د (۳۰۷۲٦.۱) متره مربع احاطه سوې ځمکه چې د هنگر او لویو او کوچنیو خونو درلودونکې ده او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۱۵۱۰۰) افغانۍ ده د (۳) کلونو لپاره د داوطلبۍ له لاري په کرایه ورکوي.
کوردینات (جی.پی.اس نمبر) ٦٩,۲۵۷۳- ۳٤,۵٤۵۳۱

ټول هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې غواړي پورته ذکر سوی ملکیت په کرایه ونیسي کولای سي چې خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۴/ جوزا/ ۰۴ تر د ۱۴۰۴/ جوزا/ ۲۴ ) د (۲۱) ورځو په موده کې د امارتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپانه تر لاسه کړي.

پته: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزې ودانۍ (۵) پوړ د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د اړیکو شمېره:-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤ - ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷

د داوطلبۍ ټاکلې نېټه: ۱۴۰۴/۰۳/۲۵ د سهار ۱۰:۰۰ بجې تر سره کېږي.


شتمنې
SHTAMANI
اوونیزه
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسئول مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکسپاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴٤٤۰(+)



## Herat Towards Modernization
## General Directorate of Customs Installs 80 Security Cameras at Islam Qala, Torghundiy Border Customs



The General Directorate of Customs of the Ministry of Finance has installed and activated 51 security cameras at Islam Qala border customs, and 29 at Torghundiy border customs in Herat province, which will be connected to Kabul in the near future. The installation of these security cameras will provide significant convenience in terms of preventing customs violations and incidents in addition to security issues, officials assured. It is worth noting that the MoF is committed to equipping all customs in Afghanistan with standard electronic systems as that significant tranquility can be provided to compatriots, especially traders.

## General Director of Customs Meets With Governor of Khost, Traders; Pledges Tackling Obstacles



The General Director of Customs of MoF, Alhaj Maulawi Mohammad Hamid Ahmad, who was on an official visit to Khost province, met separately with the Governor of the aforementioned province, Maulawi Abdul Qayyum Rohani, and numerous traders. Hon. Maulawi Ahmad discussed and talked about creating facilities for traders in various arenas, solving issues, increasing customs revenues, and a number of other issues during the meeting with the Governor of Khost. The traders of Khost province shared their problems during the meeting, and the General Director of Customs assured them for removing the obstacles. During this visit, Maulawi Ahmad also closely evaluated the affairs of the 'Khost Excise Customs' and 'Ghulam Khan Customs', and made necessary recommendations to the officials and staff of these customs in various fields. Notably, the General Director of Customs will also visit Paktia province during this trip to figure out customs affairs.




## پاکستان د سوداګریزې ودې په خاطر د افغانستان له مهمو صادراتو څخه ٪(۱۰) مالیه ایسته کړه




د ګراونډ نیوز ـ GROUND News په نوم یوې پاکستانۍ رسنۍ د افغانستان پر مهمو صادراتو د مالیې د لیرې کولو په تړاو راپور خپور کړی دئ او د خامه پریس خبري اژانس په حواله ئې لیکلي دي، چې پاکستان د افغانستان پر مهمو صادراتو ٪(۱۰) مالیه لغوه کړه. له بلې خوا بیا خامه پریس خبري اژانس همدا خبر د «پاک ـ افغان د سوداګرۍ او صنایعو ګډې خونې ـ PAJCC» په نوم اخیستلو سره استناد کوي، چې وایي پر افغان صادراتو باندې د مالیې لیرې کولو پرېکړه ئې د مهمو صادراتو په تړاو ترسره کړې ده. تر دې راوروسته ګراونډ نیوز د پاکستاني حکومت د دا ډول پرېکړې د هدف په هکله کاږي، چې پر افغاني صادراتو باندې د مالیې ایسته کولو موخه ئې د «دوه اړخیزې سوداګرۍ پیاوړتیا او د اقتصادي اړیکو» ښه کول دي. ورپسې زیاتوي، چې د «پاک ـ افغان د سوداګرۍ او صنایعو ګډې خونې» په دې وروستیو کې اعلان وکړ، چې د پاکستان د فیډرالي عوایدو بورډ ـ FBR له خوا دا ډول نوي اصلاحات به د افغانستان او پاکستان ترمنځ «سوداګرۍ او ټرانزیټ» اسانه کړي. ګراونډ نیوز د راپور د متن په وروستۍ کرښه کې دا ټکی هم ور اضافه کوي، چې وایي د دا ډول اصلاحاتو هدف د سوداګریزو اړیکو څواکمنتیا او په سوداګرۍ کې د خنډونو پر لیرې کولو راګرځي.




### د شکایتونو اورېدلو آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټیلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶ ( ۹۳+ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



### د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی ګمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اګر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱